# د بُســت

## علمي او څېړنیزه مجله

| کال | ګڼه | ټوک |
| --- | --- | --- |
| ۱۴۰۱ | دوهمه | لومړی |

بسم الله الرحمن الرحيم

# بُست علمي او څېړنيزه مجله


**بُست پوهنتون**

**لومړی ټوک – دوهمه ګڼه**

**کال – ۱۴۰۱**

# بُست علمی او څېړنیزه مجله

# بُست پوهنتون

**د امتیاز خاوند:** بُست پوهنتون

**مسؤل مدیر:** پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصری

**کتنپلاوی:**

⇐ پوهندوی رضوان الله مملوال

⇐ پوهنمل عبدالعزیز صابر

⇐ پوهنمل عبدالولي هجران

⇐ پوهنمل حنیف الله باوري

⇐ پوهنیار عبدالولی همت

⇐ پوهنیار بشیر احمد بابا زوی

⇐ خان محمد وفا

⇐ ډاکټر ذبیح الله انوری

⇐ پوهنوال دوکتور احمد جاوید پویش

⇐ پوهنوال دوکتور خال محمد احمدزی

⇐ پوهندوی دوکتور غلام رسول فضلي

⇐ پوهندوی دوکتور علی احمد

⇐ پوهنمل دوکتور عبدالوهاب حکمت

⇐ پوهنمل دوکتور ناصر ضیا ناصري

⇐ پوهندوی نیاز محمد زاهدي

**ډیزاین:** د بُست پوهنتون دخپرنیزو او فرهنگي چارو مدیریت

د خپرولو کال: ۱۴۰۱

**پته: بُست پوهنتون، لښکرگاه،هلمند، افغانستان**

## د بُست پوهنتون د رئیس پیغام

په نني ژوند کې د يوې علمي مؤسسې يو له مسؤليتونو څخه دا دی، چې نه يواځې خپل محصلان د پوهې په ګاڼه سمبال کړي، بلکې د پوهنتون د لوړو زده کړو لرونکو پوهانو او استادانو د علمي زيرمتون څخه داسې څه وخت په وخت راوباسي، چې د ټولنې د ژوند د اړتياوو د پوره کولو لپاره او يا لږ تر لږه د ټولنې د لوستي قشر د خبرولو او که وکولای شي له هغوی څخه د عمل په ډګر کې د ګټې اخيستنې په موخه، په کار واچول شي.

و دې موخې ته د رسيدلو لپاره پوهنتون بايد يو داسې علمي خپرندويه ارګان ولري، چې په هغه کې د پوهنتون ټول با صلاحيته منسوبين که هغه استاد وي، که کارکوونکی او که زده کړه يال، خپلې علمي او څېړنيزي مقالې او ليکنې د کاغذ پر مخ باندې کښيښودلای شي.

زما په شخصي آند پدې مجله کې لکه له نوم څخه چې يې ښکاري، بايد داسې مسائل را برسيره شي، چې نه يواځې په پوهنتون پورې راګير پاتې شي، بلکې په عام ډول سره د افغاني ټولنې او په ځانګړي ډول سره د هلمند ولايت د اوسيدونکو ننې او سبا ژوند ته په کتلو سره، برياليتونونه، ستونزې، وړانديزونه او د حل لارې- چارې، وړاندې کړل شي. هغه وخت به د بُست پوهنتون علمي مجله يواځې د بست پوهنتون نه، بلکې د ټول هلمند ولايت، آن د سيمې او ټول افغانستان په کچه د پوهې او څېړنې په برخه کې د وخت د غوښتنو سره سم، د پاملرنې وړ او ځوان نسل ته د يوې سمې لارې د ښودلو په موخه، يوه محبوبه او پر زياتو خلکو باندې ګرانه مجله وي او په ټول هيواد کې به خپل مينه وال ولري.

دا مجله به د بُست پوهنتون د مشرتابه، استادانو، محصلانو، فارغانو او ټولو مينه د علمي او څېړنيزو مقالو د خپرولو لپاره که هغوی د پوهې په هر ډګر کې چې وي، يو خپرنيز ارګان وي، چې و خپريدلو ته به يې ټول مينه وال په تمه ناست وي. څومره به پرځای او ښه خبر وي، چې د ټولنې لوستی قشر په تيره بيا د بست پوهنتون محترم استادان، فارغ شوي او بر حاله محصلان د علمي او څېړنيزو مقالو وليکلو ته وهڅول شي.

زه د بُست پوهنتون د ټولو منسوبينو په استازيتوب وياړ لرم، چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې د خپريدلو له امله د محترم مؤسس، محترم علمي مرستيال او د څېړنې له محترم آمر او همدا رنګه د مجلې له ټولو کارکوونکو او پرسونل څخه د زيار او زحمت په ګاللو سره چې مجله يې و خپريدلو ته چمتو کړې ده، مننه او قدرداني وکړم، ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وايم او هيله لرم چې د بُست پوهنتون د علمي مجلې کارکوونکي به خپل رسالت د پوهنتون او ټول هلمندې ولس او په اخری تحليل کې د ټول افغان ملت پر وړاندې په پوره او ټينګ عزم سره سرته ورسوي.

**په درنښت**

**ډيپلوم انجنير محمود سنګين**

# سریزه

بُست پوهنتون ویاړ لري چې د خپل علمي پرمختګ په لاره کې یې یو بل ډیر مهم او اړین ګام پورته کړ او هغه د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د لومړۍ ګڼې خپرېدل دي . تر هر څه دمخه د پوهنتون ټولو استادانو، محصلانو او د علم او پوهې د لوی کور مینه والو ته د بُست د علمي او څیړنیزي مجلې د خپرېدلو مبارکي وړاندې کوم او ددې سره جوخت د ټولو ملګرو څخه چې ددې مجلې د جواز په تر لاسه کولو، ترتیبولو او خپرولو کې یې نه ستړې کېدونکې ونډه اخیستې ده د زړه له کومي مننه کوم.

د علمي کور کهول او اړوند کسانو ته ښکاره ده او پوره باور لري چې د نننی نړۍ هر اړخیزه پر مختګ د پوهانو د علمي څیړنو د زیار له برکته ممکن سوی او د لوړو زده کړو مؤسسي، اکادمیک انستیتوتونه او څیړنیز علمي مرکزونه پکښې مرکزي او پریکنده رول لوبولی دی.

همدې اصل او ارزښت ته په کتو سره بُست پوهنتون غواړي د پرمختللو اکاډمیکو نورمونو په رعایت د تدریس، علمیڅیړنو او نوښتونو له لاري مسلکي کادرونه وروزي او د معیاري تحصیلي اسانتیاوو او زمینو په برابرولو سره د ټولنې ځوانانو ته معیاري او لوړ کیفیت لوړې زده کړي وړاندی او د علمیڅیړنو پر بنسټ د کره پوهنیزو اثارو د تولید زمینه برابره کړي ، ترڅو د لوړو زده کړو او مسلکي پوهې په ډګر کې د ګټورو مهارتونو په تر لاسه کولو او د خپلو رښتینو اهدافو په لاسته راوړلو سره د ټولنې او هیواد په پرمختګ او رغونه کې رغنده ونډه واخلي او د رښتیني خدمت جوګه شي.

ژمن یو چې د هلمند ولایت، ګاونډیو ولایتونو او په ټول هیواد کي ځوان نسل ته د اسلامي ، ملي او کلتوري ارزښتونو په رڼا کي معیاري د علمي او مسلکي لوړو زده کړو او پراخو علمي څیړونو زمینه برابره او ټولني او هیواد ته ژمن او روزل سوي کادرونه وړاندي کړو.

د اوس لپاره د بُست علمي او څیړنیزه مجله یوازي د **سائینسي علومو** په برخه کې علمي او څیړنیزي مقالي او لیکني د چاپ او نشر د تګلارې سره سم مني او خپروي او هیله مند یو چې په راتلونکې کي به نوري برخي هم ور زیاتي کړل سي.

ډاډ لرم چې د بُست پوهنتون استادان، محصلان او علمي کارمندان به انشاًالله، نن، سبا او په راتلونکې کې د خپلي علمي څیړنیزي مجلې د خپرولو له لاری خپل دغه دروند خو ویاړلی دین (پور) اداً کړي. همدا ډول ټولو د علم او پوهي څښتنانو او مینه والو ته په مینه سره بلنه ورکوو چي ددی علمي او څیړنیزي مجلي او د بُست پوهنتون د پرمختګ په لاره کي خپلي علمي او څیړنیزي لیکني، آندونه، وړاندیزونه او رغنده نیوکي او مرستي د تل په شان راولوروۍ او د علم ددي ستر کور په ودانولو کي د خپلي دیني، او ملي برخي د اداینې ویاړ راوبخښي.

موږ هوډ کړیدي او هیله مند یو چي انشآ الله د وخت په تیریدو سره به د خپل هیواد و بچیانو او ځوان نسل ته د تدریس ، ښه روزني او څیړنیز هاند لپاره اړیني او د پام وړاسانتیاوي برابري کړو تر څو په لومړي پړاوکښي خپلو هلمندوالو بیا د سهیل لویدیځي حوزي او په پاي کښي و ټولو هیوادوالو ته د یو داسي چوپړ مصدر وګرځي چي زموږ د ځوریدلي اولس او ویجاړشوي هیواد اقتصادي، فرهنګي، سیاسي او ټولنیزي ستونزي حل او افغانستان د نړي د پرمختللوهیوادونو په لیکه کي ودریږي.

## لړلیک

| د مقالې عنوان | د صفحې شمیره |
|---|---|
| **د هلمند ولایت بُست روغتون کې د پیپټک قرحاتو د تثقب پېښو څېړنه** ---------------------------------- | ۱ |
| ډاکټر رحمت الله مایار، پوهندوی ډاکټر علي احمد، ډاکټر ذبیح الله انوري | |
| **د هلمند ولایت بُست روغتون کی د غیرمستقیم مغبنی چوره د واقعاتو څېړنه** ------------------------------ | ۸ |
| ډاکټر محمد گل امین، پوهندوی ډاکټر علی احمد، ډاکټر ذبیح الله انوری، ډاکټر سید بسم الله سجادی | |
| **د هلمند ولایت بُست روغتون کې د هیموروييد د پېښو څېړنه** ------------------------------------------- | ۱۶ |
| ډاکټر عبدالمنان دوست، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي | |
| **Global system for mobile communications of infrastructure, Security and Features** ------------- | ۲۲ |
| Sayed Naseer Ahmad Agha, Khan Mohammad Wafa | |
| **د هلمند ولایت د افغان پُست دولتي شرکت د مصارفو او عوایدو اقتصادي تحلیل** ------------------------- | ۲۹ |
| پوهندوی ډاکټر علی احمد، عبدالکریم کریمي، پوهندوی نقیب الله مجددي | |
| **د کندهار په میرویس حوزوي روغتون کې د کترکت د عملیات وروسته Iris Prolapse پېښو څېړنه** ----- | ۳۹ |
| ډاکټر محمد داود نورزاد، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي | |
| **د هلمند ولایت په بُست روغتون کې Ischemic Heart Diseases د پیښو تحلیل** ------------------------- | ۴۴ |
| ډاکټر صدیق الله فضلي، پوهندوی ډاکټر علي احمد، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي | |
| **په هلمند ولایت کې د الکترونیکي بانکدارۍ په قبلولو باندي اغېزمن عوامل** --------------------------- | ۵۱ |
| محب الله آمیني، پوهنیار عبدالله زیارمل، نوماند پوهنیار صفت الله آشنا | |
| **د وایرلس شبکې او CDMA (کوډ ویشنه او څو ځلي لاسرسي) پیژندنه** --------------------------------- | ۵۶ |
| حسن خان مخلص، خان محمد وفا | |
| **د وزیر محمد اکبر خان په روغتون کې د پیلون د کسرونو د پېښو څېړنه** --------------------------------- | ۶۷ |
| ډاکټر محمد خالد نظر، ډاکټر ذبیح الله انوري، ډاکټر سید بسم الله سجادي | |

# د هلمند ولايت د افغان پُست دولتي شرکت د مصارفو او عوایدو اقتصادي تحلیل

پوهندوی ډاکټر علی احمد[1*]، عبدالکریم کریمي[2]، پوهندوی نقیب الله مجددي[3]

[1]کرنیز اقتصاد او ترویج څانګه، کرهڼي پوهنځی، هلمند پوهنتون

[2]اداره او تشبثات څانګي محصل، اقتصاد پوهنځی، بُست پوهنتون

[3]باغداری څانګه، کرهڼي پوهنځی، انستو پوهنتون کندهار

د مسؤل ایمیل آدرس: aada.aliahmad@gmail.com

## لنډیز

دا څېړنه په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت د ۱۳۹۸- ۱۴۰۰ کال پوري عواید او مصارف تر څېړني لاندي نیسي. چې د څېړني لومړني معلومات په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت د عمومي مدیریت څخه د پوښتنپاڼي او مرکې په مرسته راټول سوي. څېړنه ښيي چې په هلمند کې د پُستي خدمات له ډېر پخوا څخه شروع دي او دلته په هلمند کې د مخابراتو د ریاست تر چتر لاندي ترسره کیدل. لومړی ځل لپاره هلمند کې په ۱۳۰۸ ل کال کې د مخابراتو ریاست تر چتر لاندي فعالیت پیل کړ، په ۱۳۹۸ ل کال کې د رئیس جمهور محمد اشرف غني په خاص فرمان په دولتي شرکت تبدیل سو، په هلمند کې افغان پُست دولتي شرکت تر دې مهاله ۳۶ رسمي کارکوونکي لري چې په مختلفو اداري او علمیاتي برخو کې دندي پر مخ وړي، افغان پُست شرکت تر دې مهاله په هلمند کې د دولتي مراسلاتو تر څنګ شخصي مراسلات او د پاسپورټ او نورو شخصي اسنادونو لیږد او رالیږد پر غاړه لري، په تیرو دریو کلونو کې افغان پُست شرکت ۲۷۳۰۱ قطعې اداري مراسلات ۴۲۰ قطعې شخصي مراسلات او ۱۹۰۳۲ جلده د پاسپورټ توزیع چاري مخته وړي دي. په هلمند کې د افغان پُست شرکت خصوصي مشتریان ۳۲٪ جوړوي او دولتي ادارات یې د مشتریانو ٦٨٪ سلنه جوړوي. په ۱۳۹۸ کال کې په هلمند کې دافغان پُست شرکت عواید ٦،٢٠١،٢٧٥ او مصارف ۳،٦٨٢،۱۸۵ میلیونه افغانۍ وې، په ۱۳۹۹ کال کې د دې شرکت عواید ۴،٢٦٧،۵۰۰ او مصارف یې ۳،٦٧٢،٦٧٢ میلیونه افغانۍ وې، په ۱۴۰۰ کال کې د دې شرکت عواید ۴،٢٨٢،٢٧٣ میلیونه او مصارف یې ۳،٧۴۵،۴۳۹ میلیونه افغانۍ چې د ګټي له مخي ۱۳۹۹هـ ش کال تر ټولو ښه وو.

**کلیدي کلیمي:** افغان پُست دولتي شرکت، مصارف او عواید

## سریزه

د افغانستان پُستي خدمتونه د لومړي ځل لپاره په ۱۸۷۰ م کال کې د امیر شیرعلي خان په دوره کې رواج وموند. په هغه وخت کې یوه پُسته خانه په مرکز کې د کابل په بالاحصار کې د (چاپار خانې) به نوم او لویو ولایتونو کې په ابتدایي ډول جوړې شوې. دولتي مکتوبونه او شخصي لیکونه یې په راجستر شوي ډول د یو مثقال او دوه مثقاله په وزن منل. پُستي ټکټونه د هغه وخت په مروجو سکو په بیه، په سپین کاغذ په کمزوري رنګ چاپ او د مکتوبونه او لیکونو له پاسه نصبول. د هغه وخت مشهور پُستي ټکټونه د زمري د سر په نامه یادیدل. او له نصبولو څخه مخکې یې یو کنج غوځیده. د پستې د انتقال لپاره له یو مرکز څخه بل مرکز ته ټاکلی وخت په پام کې نه وو نیول شوی.انتقالات د پُستي د ټاکلي حد تابع وو. هغه دولتي مکتوبونه چې د فوري کلمه ورباندي لیکل شوې وه. فوق العاده پُسته ګڼل کېده د پُسته بردار په نوم یادیده، دغه پُسته پر اسپ سپاره استوونکي له خوا چې چاپار په نوم یادیده، اصلي ځای ته لېږدول کېده. د مکتوبونو وېشنه د ځانګړو کسانو له خوا کېده چې لیک رسوونکي په نوم یادیدل. که کوم دولتي مکتوب چې به بهرني هیواد ته استول کیده د هغه استونه د خانګړي قاصد له خوا سرته رسیده . پورتنیو اجرااتو تر ۱۸۷۸ م کال پوري دوام درلود. له ۱۸۹۲ م کال څخه وروسته یعني د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په دوره کې د پُستي منظم کارونه رامنځته شول. په ۱۹۰۷ م کال یعني د امیرحبیب الله خان په دوره کې پُستي کارونه ښه پرمختګ وکړ. د پُسته خانو په شمېر او پُستي کرښو کې زیاتوالی راغی. دولتي مکتوبونو لپاره ځانګړي ټکټونه چاپ شول. په دې وخت کې د پُستي دفترونه د ډاګخانو په نوم یادیدل. یوه ډاګخانه په پېښور کې هم جوړه شوې وه. پُستي کارونه د امانیه په دوره کې ډېره پراختیا ومندله او ددخلې وزارت په چوګاټ کې د پُست او تلګراف عمومي مدیریت جوړ شو په ۱۹۲۵ م کال کې د کابل او مشرقي ترمنځ د لومړي ځل لپاره د پُستې د حمل او نقل لپاره له موټر څخه ګټه واخیستل شوه او د تبادلې یو دفتر په تور خم کې هم جوړ شو. نور دفترونه په اسلام کلا، د ایران په طیبات، د مزارشریف په تاشګذر، سپین بولدک او تور غونډۍ کې جوړ شول. افغانستان په ۱۹۲۸ م کال کې د نړۍ د پُستي اتحادیې غړیتوب ترلاسه کړ او د پُست اداره د دیپلوماتیکو لارو د نړۍ د پُستي کنواسیون د حکمونو سرته رسولو ته ژمنه شوه. پُستي سیستم مخ په سمون شو. په ۱۳۴۴ لمریز کال کې د مخابراتو ریاست د مخابرتو وزارت ته لوړ شو، د پُست د انتقال لپاره پُستي سرویس موټرونه د کابل څخه د تورخم او کندهار په لور په کار واچول شول. پُستي خدمات په نړۍ کې ډېر اوږد تاریخ لري، هغه وخت چې په نړۍ کې مبایل موجود نه وو، ټولو ځایونو کې له پُستخانې څخه استفاده کیدل د پُستخانې ډېر لومړني خدمات له انګلستان هیواد څخه پیل سوي. چې وروسته عصري سوي، د پُستخانې ابتدائیه شکل ډېر پخوانی تاریخ لري، چې انسانانو د خپلي اړتیا سره رامنځته کړ. د پُستخانې نښې او نښانې ډېر پخوا ان تر میلاد مخکې هم تر سترګو کېدلې. په مصر کې فرعونیانو د یو ښار څخه بل ښار ته د ځانګړو خلګو په مرسته لیکونه لیږدول او خپلې اړیکې یې د لیک په مرسته ټینګولې، د حضرت محمد ص په وخت کې هم له نورو هیوادونو او قبیلو سره د لیک په مرسته اړیکې نیول سوي. چې دا په خپله د پستخانې یو ډېر پخوانی شکل وو. د نړۍ د پرمختګ سره د نورو شیانو تر څنګ پستخانې هم پرمختګ کړی، د نړیوالي جګړې په راتګ سره په میلیونونه انسانانو خپل ژوند د لاسه ورکړ. پوځیانو ددې لپاره چې مړي یې کورنۍ پیدا کړای سي د کورونو ادرسونه او د خپل زړه فریادونه یې په جیب کې ایښودل تر څو تر مرګ وروسته یې کورنۍ ته ورسیږي. چې د همدې لیک په ادرس به یې کورنۍ ته د هغه سامان الات او وسایط سپارل کیدل. همدرانګه دولتي اداراتو د یو بل سره د اړیکو د نیولو او اسنادو د استولو لپاره یوه چینل ته اړتیا درلودل چې دوی سره وصل کړای سي چې همدې ضرورتونو پُستي خدمات رامنځته کړل. عصري یې کړل او سهولتونه یې خلګو ته ایجاد کړل. هغه وخت چې مبایل نه وو، پُستخانو د خلګو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره خورا ډېري اسانتیاوي رامنځته کړي وې، د ورځنۍ اخبار د رسولو تر څنګ لیکونه د یوه ادرس څخه بل ادرس ته په ډېر کم وخت سره استول کیدل چې د موټرونو څخه مخکې د حیواناتو په مرسته د مربوطه اداري لخوا دا کار تر سره کیدل چې معلومي اداري له لوري د یوه ښار لیکونه د خر یا آس په مرسته بل ښار ته لیږدول کیدل او د هغه ښار څخه به نور لیکونه راوړل کیدل. چې ورو ورو دې پستخانو پرمختګ وکړ. د موټر په رامنځته کیدو سره د پُستخانو په کارونو کې لا چټکوالی راغلی او د طیارې د جوړیدو سره یې د نړۍ سره اړیکي ډېر پراخه سوي. افغانستان هم د پُستخانې ډېر اوږد تاریخ لري.

چې په افغانستان کې د پُستخانې تاریخ د امیر شیرعلي خان وخت ۱۸۷۰ تره رسیږي چې د نن څخه شاوخوا ۱۵۰کاله ورځخه تیریږي. وخت په وخت دې سکتور ته د حاکمانو له لوري کار سوی او ځیني وخت یې په کارونو کې خنډونه رامنځته سوي. چې اوسمهال دا سکتور د مخابراتو د وزارت تر چتر لاندي فعالیت لري (محمود،۱۳۹۰).

**د ستونزي بیان:**

د افغان پُست شرکت چې د فعالیت ساحه یې پراخه ده چې د دولتي اداراتو په شمول د خصوصي اداراتو او اشخاصو ته هم خدمات وړاندي کوي. نوموړی شرکت په هلمند ولایت کې فعالیت کوي ، ستونزه داده چې د هلمند افغان پُست دولتي شرکت د عوایدو او مصارفو په اړه دقیق معلومات په لاس کې نسته او په دې موضوع باندي تر اوسه کومه څېړنه نه ده سوې نو نوموړې څېړنه به په هلمند ولایت کې د نوموړي شرکت اړوند د (۱۳۹۸- ۱۴۰۰) کلونو کې معلومات وړاندي کړي.

**د څېړني اهمیت:**

څرنګه چې په ټوله نړۍ کې پُستې خدمات د څانګړو اقتصادي ارزښت وړ دي، په افغانستان کې هم افغان پُست دولتي شرکت په ۱۸۷۰ م کال کې په فعالیت پیل کړی چې په دې څېړنه کي به د هلمند د افغان پُست دولتي شرکت عواید او مصارف د ۱۳۹۸ څخه تر ۱۴۰۰ ل کال پوري په لاس راسي. دا څېړنه د افغان پُست دولتي شرکت د عوایدو سرچینې او کلني لګښتونه تر څېړني لاندي نیسي چې په دې اړه تر اوسه دقیق ارقام موجود نه دي دا څېړنه په راتلونکي کې نورو څېړنو ته لار برابروي او علمي او تحقیقاتي ارګانونو ته دقیق ارقام او معلومات وړاندي کوي چې کیدلای سي په نورو څېړنو او مقالو کې استفاده ورڅخه وسي.

**د څېړنی موخې:**

- د افغان پُست دولتي شرکت انتقالات معلومول.
- د افغان پُست دولتي شرکت د ۱۳۹۸- ۱۴۰۰ کلنو د مصارفو او عوایدو تحلیل کول.

## مواد او کړنلاره

**الف. د څېړنې ځای او وخت**

دا څېړنه په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت اقتصادي تحلیل تر سرلیک لاندي په کال ۱۴۰۰ کی ترسره سوې ده.

**ب. د څېړنې ډیزاین**

دا یو کمي او کیفي څېړنه ده، چې د هلمند ولایت د افغان پُست دولتي شرکت د عوایدو او مصارفو اقتصادي تحلیل تر څېړني لاندي نیسي، د افغان پُست دولتي شرکت مو د څېړنی لپاره په قصدی ډول وټاکی او د څېړنی مربوط معلومات او ارقام مو د یاد شرکت څخه تر لاسه کړه.

**ج. مواد**

په دی څېړنه کی د دوهمي او لومړني معلوماتو څخه استفاده سوی ده. دوهمي معلومات د کتابتونو، انټرنیټي ویبسایټو، ملی او نړیوالو ژورنالو څخه راټول سوي دی او ددی ترڅنګ لومړني معلومات د هلمند د افغان پُست دولتي شرکت د مسؤلینو څخه د پوښتپانو او مرکو په مرسته راټول سوي دی.

**د. احصائیوي تحلیل**

په دې څېړنه کې راټول سوي اعداد او ارقام د اکسل په پرګرام کې تحلیل سوي دی.

## نتیجه او مناقشه

افغان پُست شرکت په ټول افغانستان کې فعالیت لري، چې د فعالیت لپاره په ولایتونو او ولسوالیو کې خپلي څانګي لري. افغان پُست شرکت په عمومي ډول د انتقالاتو مسؤلیت لري چې د یوې سیمي څخه بلي سیمي ته مشخص توکي لکه اسناد، د مبایل سیمکارټونه، پاسپورټونه او نور کوچیني او غټې بستې تر خلګو پوري رسوي.

پوسته خانه په ټوله نړۍ کې ډیر اوږد تاریخ لري او د ټولني لپاره ډیر موثره تمام سوي چې د خپل موثریت له وجې تر اوسه د پرمختللي ټیکنالوژۍ تر څنګ دوام لري. په عمومي توګه د پُست د شرکتونو وظیفه د لیک د انتقال څخه راپیل سوې. چې د یوې سیمي د دولت خبر به یې بلي سیمي ته لیږدول. چې وروسته یې وظیفې کې زیاتوالی راغلی. افغان پُست شرکت په افغانستان او هلمند کې په عمومي توګه درې وظیفې مختلف وړي چې په لاندي ډول دي:

- اداري مراسلات
- شخصي مراسلات
- د پاسپورټونو توزیع

پُستي لیږدوني د خپلې محتوا، ماهیت او وزن له پلوه په بېلابېلو برخو وېشل کېږي، چې عبارت دي له: مکتبونو، پُستکارت، د دو کیلو ګرامه په اندازه وړو کڅوړو و مطبوع تر دوه کیلو ګرام تعین او تر پنځه کیلو ګرامه استثنا دي. او تر اوو کیلو ګرامه د ړندو کسانو توکي او هغه توکي چې لیږد یې ډېر اړین وي، د هوا له لارې انتقالېږي، همدارنګه هغه توکي چې لیږد یې ډېر اړین نه وي د ځمکې او یا هم د هوا له لارې انتقالېږي.

**(۱) جدول: د افغان پُست فعالیتونه په ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰**

| کلونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | مجموعي فعالیت | ۱۳۹۸ کال په پرتله |
|---|---|---|---|---|---|
| دولتي مراسلات | ۱۲۰۴۶ | ۹۸۱۰ | ۵۴۴۵ | ۲۷۳۰۱ | -۴۴۱۸ |
| شخصي مراسلات | ۲۰۵ | ۱۴۷ | ۶۸ | ۴۲۰ | -۹۷ |
| پاسپورټونه | ۸۵۹۸ | ۲۵۶۲ | ۷۸۷۲ | ۱۹۰۳۲ | -۳۳۸۱ |

**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته جدول کې د افغان پُست فعالیتونه چې په ۱۳۹۸ هـ ش کال کې ۱۲۰۴۶ قطعې اداري مراسلات ۲۰۵ قطعې شخصي مراسلات او ۸۵۹۸ جلده پاسپورټونه توزیع شوي، په ۱۳۹۹ هـ ش کال کې ۹۸۱۰قطعې دولتي مراسلات ۱۴۷ قطعې شخصي مراسلات ۲۵۶۲ جلده پاسپورټونه توزیع سوي وه، او په ۱۴۰۰ هـ ش کال کې ۵۴۴۵ قطعې دولتي مراسلات ۶۸ قطعې شخصي مراسلات ۷۸۷۲ جلده پاسپورټونه توزیع شوي، چې د ۱۳۹۹او ۱۴۰۰ کلونو په پرتله د ۱۳۹۸ کال د افغان پُست فعالیتونه زیات ترسره سوي دي. چې د کرونا ویروس او جګړې له امله په ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو کې د افغان پُست فعالیتونو کې کموالی راغلی.

**(۱) ګراف: د افغان پُست فعالیتونه ۱۳۹۹ -۱۴۰۰**




**سرچینه: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته ګراف کې موږ ګورو چې په تیرو دریو کلونو کې افغان پُست شرکت ۲۷۳۰۱ قطعې اداري مراسلات ۴۲۰ قطعې شخصي مراسلات او ۱۹۰۳۲ جلده د پاسپورټ توزیع چارې مخته وړي دي. په هلمند کې د افغان پُست شرکت ډیر فعالیت د دولتي ادارتو سره دی چې دولتي مکتوبونه له مرکز څخه هلمند او یا هم د هلمند څخه کابل ته لیږدولي. چې د ۱۳۹۹او ۱۴۰۰ کلونو په پرتله د ۱۳۹۸ کال د افغان پُست فعالیتونه زیات ترسره سوي. چې د کرونا ویروس او جګړې له امله له ۱۳۹۸ تر ۱۴۰۰ کاله د یاد شرکت د مراسلاتو مجموعي حجم ۲۷۷۲۱ قطعې و چې په اوسط ډول یې هر کال ۴۵۱۶ قطعې مراسلات کم سوي و. او د پاسپورت مجموعي حجم ۱۹۰۳۲ و چې په اوسط ډول یې هر کال ۳۳۸۱ جلده پاسپورت بیلانس منفي وو.

**په هلمند کې د افغان پُست شرکت مشتریان:**

خنګه چې په هلمند کې د لیک او لوست کچه ټیټه ده په همدې خاطر پُستي خدمات په هلمند کې کمزوري دي او په ټیټه سطحه دي او خلک یې په اړه زیات معلومات نه لري، په هلمند کې د افغان پُست شرکت مشتریان په زیاته کچه خصوصي او دولتي ادارات دي. چې په دې وروستیو کې افغان پُست شرکت د یو شمیر خصوصي اداراتو سره قراردادونه کړي چې داخلي او خارجي انتقالات سرته روسوي. په تیرو دریو کلونو کې د ۱۳۹۸ څخه تر ۱۴۰۰ کال پورې خصوصي ادارات ورځ تر بلې مخ پر پورته روان دي او پُستي خدماتو ارزښت زیاتیږي چې په همدې کلونو کې د افغان پُست شرکت په خصوصي مشتریانو کې د پام وړ زیاتوالی نه دی راغلی چې اوس د مشتریانو د سلنې له مخې د افغان پُست شرکت دولتي ادارات ۶۸٪ سلنه جوړوي او خصوصي اداري د فعالیت یا کار له نظره د افغان پُست شرکت ۳۲٪ سلنه جوړوي.

**(۲) ګراف: د افغان پُست مشتریان**




**سرچینه: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته ګراف کې موږ ګورو چې په هلمند کې د افغان پُست شرکت فعالیت ته په کتلوسره د فغان پُست دولتي اداراتو مشتریان ۶۸٪ جوړوي او خصوصي اداري یې د مشتریانو ۳۸٪ سلنه جوړوي. په خصوصي اداراتو کې افغان پُست شرکت بیلابیل مسؤلیتونه مخته رسوي چې په هغه کې د پاسپورټ، تذکرو او نورو اسنادو توزیع او انتقال تر سره کړی دی. په دولتي اداراتو کې د مکتوبونو صادرول او واردول شامل دي چې د

مرکز څخه مکتوبونه، استعلامونه او پیشنهادونه د وزارتونو څخه ریاستونو ته او یا د ریاستونو څخه وزارتونو ته لیږدوي.

**په هلمند کې د افغان پُست شرکت عایداتي سرچینې:**

په مجموع کې د افغان پُست شرکت عایداتي سرچینې عبارت دي د دولتي او خصوصي اداراتو څخه چې د همدې دوو ادارو څخه افغان پُست خدماتي شرکت عواید تر لاسه کوي او خپل مصارفات تمویلوي.

افغان پُست شرکت تر دې مهاله درې ډوله عایداتي منابع لري لکه:

1. **رسمي اداري مراسلات**
2. **د پاسپورټ توزیع**
3. **شخصي مراسلات**

1 - په رسمي اداري مراسلاتو کې افغان پُست شرکت د مرکز او ولایاتو څخه هلمند ته مختلفو اداراتو ته پیشنهادونه مکتوبونه، استعلامونه رالیږدوي او یا یې هم د ریاستونو څخه مختلفو وزارتونو او ولایاتونه لیږدوي چې په هر ربع کې د ریاستونو او وزارتونو څخه ددې د انتقال پیسې ترلاسه کوي.

2 - د پاسپورټ توزیع یوه لویه موضوع ده چې په دې ورستیو کلونو کې په هلمند کې د افغان پُست شرکت مسؤلیت ګرځول سوی او دا لویه پروسه مخته وړي.

3 - شخصي مراسلاتو کې د ملکي خلکو د اسنادونو لیږد شامل دی چې په هلمند کې ډیر کم خلک له افغان پُست شرکت له لارې انتقال ته زړه ښه کوي، او اکثره خلک د اسنادونو او نورو توکو لیږد د لیني موټر او یا نورو انتقالي وسایلو په مرسته تر سره کوي. چې د خصوصي انتقالاتو ډیره کمه سلنه جوړوي.

په هلمند کې په اوس وخت کې تر ټولو لوړه عایداتي منبع د پاسپورټونو توزیع ده چې په زیاته کچه توزیع صورت نیسي او ددې څخه افغان پُست شرکت تر یوې اندازې پورې عاید تر لاسه کوي.

**د افغان پُست شرکت انتقالات:**

افغان پُست شرکت په هلمند کې دوه ډوله انتقالات لري چې د خپل شرکت توکي تر مرکز او ولایتونو پورې رسوي او یا یې هم د مرکز او ولایتونو څخه را انتقالوي. چې هغه دوه انتقالات په لاندې ډول دي.

- **هوايي انتقالات**
- **زمیني انتقالات**



(۱) **انځور: دافغان پُست زمیني ټرانسپورټ**

په مجموع کې د پُستي خدماتو انتقالات د همدې دوو لارو څخه تر سره کېږي هغه هیوادونه چې سمندري لارې لري ممکنه ده چې د اوبو د لارې څخه هم د خپلو انتقالاتو لپاره بحري کشتۍ استفاده کړي. د افغانستان څخه بهر چې کوم ارسالات تر سره کېږي ممکن د هغوی لپاره بحري انتقالات هم استفاده سي خو په هلمند کې افغان پُست دولتي شرکت د دوو ممکنو لارېو څخه استفاده کوي. په جمهوریت کې د افغان پُست ۷۵٪ انتقالات د هوا له لارې وه ځکه چې د هوا له لارې انتقالات ډیره کمه موده نیسي په همدې خاطر هوايي انتقالات صورت نیوه، چې زمیني انتقالات د وخت او لارې د خرابوالي له وجې نسوای ممکن کیدلای چې د یوې خوا د لارې خرابوالي او د وخت زیات ضایع کیدل او د بلې خوا د امنیتي ګواښوونو له وجې دولتي اسناد ونه د ځمکني ټرانسپورټ له لارې څخه انتقال سخت وو چې زیاته سلنه یې هوايي انتقال جوړه کړې وه.

**(۳) ګراف: د افغان پُست شرکت د انتقال چینلونه ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰**




**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په (۳) ګراف کې روښانه سوی چې د هلمند افغان پُست شرکت په ۱۳۹۸ کال ۲۰۴ بُستې د هوا له لارې او ۵۹ پُستې د ځمکني ټرانسپورټ په واسطه انتقال کړې. په ۱۳۹۹ کال کې ۲۰۹ پُسې د هوا له لارې او ۵۴

پُستي د ځمکي له لاري انتقال کړي، او په ۱۴۰۰ کال کي امنیت ښه نه وو یوازي ۲۲ پُستي د هوايي ترانسپورت په واسطه ۱۵۰ پُستي د ځمکني ترانسپورت له لاري انتقال کړي دي.

د ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰ کلنو کي د هوايي پُستي مجموعي حجم ۴۳۵ او د ځمکني پُستو مجموعي حجم ۲۶۳ په تعداد و .

چي په ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کلنو کي د پُستو بیلانس مساوي و او په ۱۴۰۰ کال کي د جګړې له وجي په پُستو کي د ۹۱ په تعداد د کموالی راغلی.

**په هلمند کي د افغان پُست شرکت انتقالات ۱۳۹۸- ۱۴۰۰:**

لکه څنګه چي په پورته ګرافونو کي ذکر سوه چي افغان پُست شرکت هڅه کوي چي تر خپلو مشتریانو پوري د هغوی استول سوي توکي ژر ورسوي تر څو ددې شرکت له خدماتو څخه مشتریان رضایت وښايي. چي په همدې اساس افغان پُست شرکت د مراسلاتو یا انتقال ډېره تکیه پر هوايي لار باندي کوي ځکه چي ممکنه ده ددې لاري څخه په یوه ورځ کي تر مطلوب کس پوري د هغوی سندونه ورسیږي. چي په ۱۳۹۸ کال کي هوايي انتقالات ۷۱٪ جوړول او ځمکني انتقالات یې یوازي ۲۹ ٪ جوړول او ۱۳۹۹ کال کي هوايي انتقالات ۷۴٪ جوړول او ځمکني انتقالات یې یوازي ۲۶٪ جوړول.

په ۱۴۰۰ کال کي د جګړې له وجي افغان پُست دولتي شرکت انتقالات د هوا له لاري ډیر کم وه ځکه چي په دې کال کي په هلمند کي جګړه ډیره شدیده وه او د طیارې سفرونه هلمند ته تر ډیره حده محدود وه په همدې اساس په ۱۴۰۰ کال کي د جګړې له وجي هوايي انتقالاتو یوازي ۱۵٪ جوړول او ځمکني انتقالاتو ۸۵٪ سلنه جوړول چي په دې اساس ځینو انتقالاتو د ۱۰ څخه تر ۲۰ ورځو پوري وخت په بر کښې نیوی، چي له همدې امله تر مشتریانو پوري په مناسب وخت باندي خپل توکي نه رسیدل.

**(۴) ګراف: د افغان پُست انتقال ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰**




**منبع: په هلمند کي د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته ګراف کي ګورو چي په ۱۳۹۸ کال کي د افغان پُست شرکت انتقالات ۷۱٪ سلنه د هوا د لاري تر سره سوي او یوازي ۲۹٪ سلنه د ځمکي د لاري څخه تر سره سوي دي. همدارنګه په ۱۳۹۹ کال کي د تیر کال په پرتله دري سلنه زیات شوي ۷۴٪ د هوا د لاري او ۲۶٪ د ځمکي د لاري څخه تر سره سوي دي. په ۱۴۰۰ کال کي ډیره سلنه ۸۵٪ انتقالات د افغان پُست شرکت د ځمکي د لاري تر سره کړي او دجګړې له وجي یوازي۱۵٪ سلنه انتقالات د هوا د لاري تر سره سوي دي. چي د ۱۳۹۸ او ۱۳۹۹ کلنو په پرتله په ۱۴۰۰ کال ۷٪ انتقالات کم سوی.

**په هلمند کي د افغان پُست دولتي شرکت عواید او مصارف:**

**(۲) جدول: د افغان پُست عواید او مصارف ۱۳۹۸**

| | |
|---|---|
| **عواید** | **٦،٢٠١،٢٧٥** |
| **مصارف** | **٣،٦٨٢،١٨٥** |

افغان پُست شرکت په ۱۳۹۸ کال کي په زیاته کچه دولتي ارسالات درلودل، چي په دې کال کي یې په زیاته اندازه عاید درلودل ځکه چي په ۱۳۹۸ کال کي امنیت نسبتاً ښه وو افغان پُست شرکت د دولتي او شخصي مراسلاتو تر څنګ په زیات اندازه پاسپورټونه توزیع کړي وه، چي په دې کال کي یې د عواید منابع یوازي همدا دولتي مراسلات او د پاسپورت توزیع وه چي خپل مصارفات یې ددې څخه تمویلول.

**(۵) ګراف: دافغان پُست شرکت عواید او مصارف ۱۳۹۸**




**منبع: په هلمند کي د افغان پُست دولتي شرکت**

په ۱۳۹۸ کال کي د افغان پُست شرکت عواید په هلمند ولایت کي ٦،٢٠١،٢٧٥ میلیونه افغانی وه، په همدې کال کي د افغان پُست شرکت مصارف ۳،٦٨٢،١٨٥ میلیونه افغانی وي. په ۱۳۹۸ کال کي په هلمند کي نسبتاً امنیت ښه وو چي د کابل څخه هلمند ته په زیاته کچه اسناودنه او

توکي لیږدول کیدل، افغان پُست شرکت د پاسپورټ د توزیع وروسته فعالیتونه ډیر زیات سول چې ددې برخي څخه یې عاید هم زیات سول.

### په ۱۳۹۹ کال کې د افغان پُست عواید او مصارف:

| (۳) جدول: د افغان پُست عواید او مصارف ۱۳۹۹ | |
|---|---|
| **عواید** | **۴،۲٦۷،۵۰۰** |
| **مصارف** | **۳،٦۷۲،٦۷۲** |

**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په ۱۳۹۹ کال کې د افغان پُست شرکت عواید او مصارف د تیر کال په پرتله کم سوي چې په دې کال کې د دولتي مراسلاتو تر څنګ د پاسپورټونو چاپ او توزیع د کرونا ویروس له امله کموالی راغلی. په هلمند کې د افغان پُست شرکت د ۱۳۹۹ کال عواید کم وه. په ۱۳۹۹ کال کې د افغان پُست شرکت عواید ۴،۲٦۷،۵۰۰ میلیونه افغانیو ته رسیږي چې په دې کې د پاسپورټ، دولتي مراسلاتو او شخصي مراسلات شامل دي. چې د تیر کال په پرتله په دې کال کې ۲ میلیونه افغانۍکموالی راغلی دی.

**(٦) ګراف: د افغان پُست شرکت عواید او مصارف ۱۳۹۹**




**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته ګراف کې موږ د ۱۳۹۹کال عواید او مصارف تر څیړني لاندې نیولي دي. په ۱۳۹۹ کال کې د افغان پُست شرکت عواید ۴،۲٦۷،۵۰۰ میلیونه دی چې د تیر کال ۱۳۹۸ په پرتله نسبتاً دوه میلیونه افغاني عواید کم سوي دي، او په مصارفو کې یې خاص توپیر نه دی راغلی. چې په دې کال کې د افغان پُست شرکت عواید څلور میلیونه افغاني او مصارف په دې کال کې درې اشاري شپږ میلیونه افغاني دی.

### د افغان پُست شرکت عواید او مصارف ۱۴۰۰ کال:

په ۱۴۰۰ کال کې د افغان پُست شرکت په عوایدو کې کوم خاص توپیر نلري او مصارف یې د نورو کلونو په پرتله زیات دي، په ۱۴۰۰ کال کې افغان پُست شرکت په هلمند کې د پاسپورټ د توزیع مسؤلیت په غاړه درلود چې د هلمند څخه کابل او یا د کابل څخه هلمند ته د پاسپورټونو او مراسلاتو پروسه سرته رسول چې په دې کال کې ددې شرکت عواید او مصارف په لاندې جدول کې ګورو.

| (۴) جدول: د افغان پُست عواید او مصارف ۱۴۰۰ | |
|---|---|
| **عواید** | **۴،۲۸۲،۲۷۳** |
| **مصارف** | **۳،۷۴۵،۴۳۹** |

**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په ۱۴۰۰ کال کې د افغان پُست شرکت عواید او مصارف د ۱۳۹۸کال په پرتله کم سوي او د ۱۳۹۹ کال په پرتله په کمه اندازه زیات سوي. په ۱۴۰۰ کال کې د افغان پُست شرکت عواید ۴،۲۸۲،۲۷۳ افغانیو ته رسیږي چې په دې کې د پاسپورټ، دولتي مراسلاتو او شخصي مراسلات شامل دي. چې په ۱۳۹۹ کال په پرتله په همدې کال کې په کمه اندازه زیاتوالی راغلی دی.

**(۷) ګراف: د افغان پُست شرکت عواید او مصارف ۱۴۰۰**




**منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت**

په پورته ګراف کې موږ وینو چې په ۱۴۰۰کال کې د افغان پُست شرکت عواید ۴،۲۸۲،۲۷۳میلیونه افغانۍ وې چې د ۱۳۹۹ کال په پرتله په عوایدو کې ۱۴۷۷۳ افغانۍ زیاتوالی راغلی. او مصارف یې د ۱۳۹۹ کال په پرتله ۷۲۷۶۷ افغانۍ زیات سوي، چې په ۱۴۰۰ کال کې په هلمند او افغانستان کې د کرونا وایروس او جګړې له وجې مصارف زیات سوي، په دې کال کې یې مصارف ۳،۷۴۵،۴۳۹ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

## په هلمند کې د افغان پُست شرکت عواید او مصارف د ۱۳۹۸-۱۴۰۰:

په هلمند کې له بده مرغه د جګړې دوام هر اقتصادي سکټور ته زیان رسولی دی، چې د جګړې له وجې په هلمند کې ډیر شرکتونه پانګوني ته لېواله نه دي. چې د دقیقو او منظم آدرسونو له امله په هلمند کې افغان پُست شرکت ډیر انتقالات نسي کولای نو په همدې خاطر په هلمند کې د افغان پُست شرکت عواید کم دي. چې هغه تر ډېره حده یوازې تر دولتي اداراتو پورې محدود دي. چې په اوس وخت کې د پاسپورټ توزیع هم ددې شرکت له لوري کیږي. په تیرو دریو کلونو کې د افغان پُست شرکت عواید او مصارف په لاندې جدول کې لیدل کیږي.

(۵) جدول: افغان پُست عواید او مصارف ۱۳۹۸ – ۱۴۰۰

| کلونه | ۱۳۹۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | مجموعي عواید او مصارف | ۱۳۹۸ کال په پرتله |
|---|---|---|---|---|---|
| عواید | ٦،۲۰۱،۲۷۵ | ۴،۲٦۷،۵۰۰ | ۴،۲۸۲،۲۷۳ | ۱۴،۷۵۱،۰۳۰ | -۱،۹۲٦،۳۸۸ |
| مصارف | ۳،٦۸۲،۱۸۵ | ۳،٦۷۲،٦۷۲ | ۳،۷۴۵،۴۳۹ | ۱۱،۱۰۰،۲۹٦ | +۳٦،۳۸۳ |

منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت

په ۱۳۹۸ کال کې په هلمند کې دافغان پُست شرکت عواید ٦،۲۰۱،۲۷۵ او مصارف ۳،٦۸۲،۱۸۵ میلیونه افغانۍ وې، په ۱۳۹۹ کال کې ددې شرکت عواید ۴،۲٦۷،۵۰۰ او مصارف یې ۳،٦۷۲،٦۷۲ میلیونه افغانۍ وې، په ۱۴۰۰ کال کې ددې شرکت عواید ۴،۲۸۲،۲۷۳ میلیونه او مصارف یې ۳،۷۴۵،۴۳۹ میلیونه افغانۍ چې د ګټې له مخې ۱۳۹۸ کال تر ټولو ښه وو.

(۸) ګراف: د افغان پُست شرکت عواید او مصارف ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰




منبع: په هلمند کې د افغان پُست دولتي شرکت

په پورته (۱۱)ګراف کې ګورو چې په ۱۳۹۸ کال کې په هلمند کې د افغان پُست شرکت عواید زیات دي د نورو کلونو په پرتله چې په دې کال کې په هلمند کې د پاسپورټ تر څنګ یو شمیر نور مراسلات د دې شرکت له لوري اجرا سوي. په ۱۳۹۹ کال کې په هلمند او افغانستان کې د کرونا ویروس له امله عواید کم سوي او په ۱۴۰۰ کال کې په هلمند کې د جګړې د شدت له امله ددې شرکت عواید کم سوي. چې ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کلونو کې په اوسط ډول ۱۹۲٦۳۷۰ یو اشاریه نهه میلیونه افغانۍ کم سوي.

## پایله

پُستي خدمات په نړۍ کې ډیر اوږد تاریخ لري، هغه وخت چې په نړۍ کې مبایل موجود نه وو، ټولو ځایونو کې له پُستخانې څخه استفاده کیدل د پُستخانې ډیر لومړني خدمات له انګلستان هیواد څخه پیل سوي. د افغانستان پُستي کارونو د لومړي ځل لپاره په ۱۸۷۰ م کال کې د امیر شیرعلي خان په دوره کې رواج وموند. په هغه وخت کې یوه پُسته خانه په مرکز کې د کابل په بالاحصار کې د (چاپار خانې) په نوم او لویو ولایتونو کې په ابتدایي ډول جوړې شوې. دولتي مکتوبونه او شخصي لیکونه یې په راجستر شوي ډول د یو مثقال او دوه مثقاله په وزن د پُسته خانې په کې منل. پُستي ټکټونه د هغې وخت په مروجو سکو په بیه، په سپین کاغذ په کمزوري رنګ چاپ او د مکتوبونو او لیکونو له پاسه نصبول. د هغه وخت مشهور پُستي ټکټونه د زمري د سر په نامه یادیدل. په هلمند کې د پُستي خدمات له ډیر پخوا څخه شروع دي او دلته په هلمند کې د مخابراتو د ریاست تر چتر لاندې ترسره کیدل. لومړی ځل لپاره هلمند کې په ۱۳۰۸ ل کال کې د مخابراتو ریاست تر چتر لاندې فعالیت پیل کړ. په ۱۳۹۸ ل کال کې د رئیس جمهور محمد شرف غني په خاص فرمان په دولتي شرکت تبدیل سو. په هلمند کې افغان پُست دولتي شرکت تر دې مهاله ۳٦ رسمي کارکوونکي لري چې په مختلفو اداري او علمیاتي برخو کې دندې پر مخ وړي. افغان پُست

شرکت تر دي مهاله په هلمند کې د دولتي مراسلاتو تر څنګ شخصي مراسلات او د پاسپورټ او نورو شخصي اسنادونو لیږد او رالیږد تر سره کوي. په تیرو دریو کلونو کې افغان پُست شرکت ۲۷۳۰۱ اداري مراسلات، ۴۲۰ شخصي مراسلات او ج۱۹۰۳۲ جلده پاسپورټ توزیع چاري مخته وړي دي. په هلمند کې د افغان پُست شرکت دولتي ادارات يي د مشتریانو ۶۸٪ جوړوي او شخصي مشتریان يي ۳۲٪ سلنه جوړوي. په ۱۳۹۸ کال کې هوايي انتقالات ۷۱٪ جوړول او ځمکني انتقالات يې یوازي ۲۹٪ جوړول. په ۱۳۹۹ کال کې هوايي انتقالات ۷۴٪ او ځمکني انتقالات يي ۲۶٪ جوړول او په ۱۴۰۰ کال کې د جګړې له امله هوايي انتقالاتو یوازي ۱۵٪ جوړورل او ځمکني انتقالاتو ۸۵٪ سلنه جوړول. د ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰ کال پوري د افغان پُست دولتي شرکت عواید ۱۴،۷۵۱،۰۳۰ څوارلس اشاریه اووه میلیونه افغانی پوري حسابل سوي. له ۱۳۹۸ - ۱۴۰۰ د افغان پُست دولتي شرکت مصارف په ترتیب سره ۱۱،۱۰۰،۲۹۶یولس میلیونه افغانی محاسبه سوي. د ۱۳۹۸-۱۴۰۰ کال د افغان پُست دولتي شرکت د عوایدو او مصارفو مقایسه په ترتیب سره (۳،۶۵۰،۷۳۴) دري اشاریه شپږ میلیونه افغانی عواید تر مصارفو زیات وه او بیلانس مثبت وو. د یاد شرکت د مصارفو مهمي برخي له ۱۳۹۸ تر ۱۴۰۰ پوري ۱۰،۴۹۷۸۴۰ لس اشاریه څلور میلیونه افغانی اداري مصارف، ۶۰۲،۴۵۶ افغانی د انتقالاتو مصارف وه.

## ماخذونه


- ژمن، محمد شفیق، (۱۳۹۳)، هلمند، لمړی چاپ، کندهار، نارنج خپروندویه ټولنه
- فیضي. پروانه (۱۳۹۰) خدمات پستي در افغانستان. کابل
- محمود. شاه محمود، (۱۳۹۵) زمان شاه امان الله، کابل.
- Hong, Wei & Zheng, Changyuan & Wu, Linhai & Pu, Xujin. (2019). Analyzing the Relationship between Consumer Satisfaction and Fresh E-Commerce Logistics Service Using Text Mining Techniques. Sustainability. 11. 3570. 10.3390/su11133570.
- Ismail, A. B., & Yunan, Y. S. M. (2016). Service quality as a predictor of customer satisfaction and customer loyalty. Scientific Journal of Logistics, 12(4), 269-283. 10.17270/J.LOG.2016.4.7.
- Igbinovia, F. O., Fandi, G., Muller, Z., Švec, J., & Tlusty, J. (2017). Effect of improved electricity product development on the business performance of a public electricity transmission company. IEEE PES PowerAfrica. https://doi.org/10.1109/powerafrica.2017.7991198
- Joefel, T., & Libo, O. (2021). Service Quality Influence on Customer Satisfaction in Courier Services: A Comparative Study. American International Journal of Business Management, 4(3), 51–63.

# Economic Analysis of Expenses and Revenues of Afghan Post Governmental Company of Helmand province

Dr. Ali Ahmad[1*], Abdul Karim Karimi[2], Naqibullah Mujadidi[3]

[1]Associate Professor, Department of Agricultural Economics and Extension, Agriculture Faculty, Helmand University, Email: aada.aliahmad@gmailcom

[2]Student, Department of Public Administration, Faculty of Economics, Bost University

[3]Associate Professor, Department of Horticulture, ANASTU, Kandahar

**Abstract**

This study examines the income and expenses of the Afghan Post State Company in Helmand from 1398-1400 years. The primary data of the research was collected from the general management of the Afghan Post State Company in Helmand with the help of designed questionnaires and interviews. The research shows that the postal services in Helmand have been started for a long time and were conducted here under the Department of Communications in Helmand. For the first time in Helmand in 1308 year, it was functional under the Department of Communications. In 1398 year, it was transformed into a state-owned company by special decree of President Muhammad Ashraf Ghani. The Afghan post government company in Helmand currently has 36 official employees who are working in various administrative and scientific fields. The Afghan Post Company is responsible for the delivery of personal mails, passports and other personal documents in Helmand, in addition to government mails. In the last three years, the Afghan Post Company has sent 27,301 pieces of administrative mail, 420 pieces of personal mail and 19,032 volumes of passports. Distribution has progressed. In Helmand, Afghan Post Company's private customers make up 32% and government agencies make up 68% of its customers. In 1398 year, the revenue of the Afghan Post Company in Helmand was Afs. 6,201,275 and the expenses were Afs. 3,682,185. In the year 1399, the company's income was Afs. 4,267,500 and its expenses were Afs. 3,672,672. In the year 1400, the company's income was Afs. 4,282,273 and its expenses were Afs. 3,745,439, which 1399 year was the best year in terms of profit.

**Keywords:** Afghan Post State Company, Expenses and Income

# BOST

Academic & Research National Journal


| Volume | Issue | Year |
|---|---|---|
| 1 | 2 | 2023 |